بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد الله وحده والصلاه والسلام على من لانبي بعده .

اول فصل دتجويد مبادي

تجويد په لغت کې تحسين يا ښايسته کولوته وايي . او په اصطلاح کې هر حرف دخپل مخرج څخه سره دټولو صفاتو اداء کول بغير دڅه تکلف نه په ډير اساني سره .

دتجويد تعريف :- دا هغه علم دي چي په دي کي دمخارجو او صفاتو څخه بحث کيږي .

دعلم تجويد موضوع : ددي علم موضوع حروف هجا دي دالف نه تريا پوري .

دتجويد دعلم غرض :- دتجويد دعلم غرض يا مقصد دقران کريم صحيح تلاوت کول دي .

دتجويد دعلم فايده - ددې علم فايده ددواړو جهانوکاميابي اودالله تعالى رضا ده .

دتجويد دعلم فضيلت :- دادټولو علوموڅخه افضل او اشرف دي ځکه ددي تعلق دټولو شيانو څخه بهتر څيز سره دي چي هغه دالله تعالى کلام دي .

دتجويد دعلم حکم :- په قران کريم او حديث نبوي او اجماع امت باندې ثابت دي چي په تجويد سره قران کريم تلاوت کول واجب او ضروري دي او په دې کې هيڅ اختلاف نشته . لکه څرنګه چي الله تعالى په سورت مزمل کې ارشاد فرمايي (وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا)

ترجمه : قران مجيد ښه ورو ورو او په اطمنان سره لوله .نوپدغه صورت کې کولاي شي چې دتجويد مراعت پکې وکړي .تفسير بيضاوي ددې ايت داسي ترجمه کوي : (وجودالقرآن تجويدا)

Aghalibrary.com

يعني قران په تجويد سره لوله دعلي (رض) څخه ددې ايت ترجمه داسي منقول ده (الترتيل هو تجويد الحروف ومعرفة الوقوف) .

ترجمه : ترتيل دي ته وايي په تجويد سره دحروفواداء کول او دوقفونو پيژندل او همدارنګه په حديث شريف کې هم ارشاد دي (ان الله يحب ان يقراء القران کما انــــــزل) ترجمه : بيشکه الله (ج) ته داخوښه ده يا الله (ج) خوښوي چي قران کريم داسي ولوستلي شي لکه څنګه چي نازل شوي دي .

او دابنکاره خبره ده چي قران کريم په تجويد سره نازل شوي دي فقهاء امت مسلمه هم دالله (ج) او دهغه درسول (ص) دحکم په بنا باندې دعلم تجويد حاصلول دهغي په موافق قران کريم لوستل ضروري ګرځولي .

علامه جزري رحمه الله عليه په خپل مشهوره رساله مقدمة الجزريه کې فرمايلي دي (والاخذ با لتجويد حتم ولازم من لم يجود القران آثم) ترجمه : په تجويد سره قران لوستل حتمي او لازمي دي او څوک چي

Downloaded from: Aghalibrary.com

په تجوید سره قران نه لولي هغه ګناهګار دي (لانه به الاله انـــــــزلا-- وهکذامنه الینا وصلا) یعني قران په تجوید سره لوستل ځکه ضروري دي چې الله تعالی قران کریم په تجوید سره نازل کړي دي او همدارنګه دا قران دالله تعالی نه مونږه پورې په تجوید سره رارسیدلي دي .

علامه شیخ محمد مکي نصر په خپل کتاب نهایت القول المفید کې فرمایي (فقد اجتمعت المے معصومه من الخطاء علي وجوب التجوید من زمن النبي (ص) الي زماننا ولم یختلف فیه عن احد منهم وهذا اقوی الحجج).

ترجمه : بیشکه ټول امت مسلمه پدې باندې اتفاق کړي دي چه تجوید واجب دي دنبي کریم (ص) دزماني نه زمونږتر زماني پورې او پدې کې هیڅاهم اختلاف نه دي کړي او دا دټولو ښخه مضبوط او قوي دلیل دي یعني پدي کې اختلاف نه کول دټولو ښخه قوي دلیل دی .

((دترتیل اجزاء))

دتـــــــــرتیل عمده اوغټ اجزاء دوه دي :((تجویدالحروف))   ((معرفه الوقوف))

لکه څرنګه چې لږ مخکې دحضرت علي (رض) په تفسیر کې تېر شو او دترتیل تفصیلي اجزاء آتوته رسیږي .

ځکه چې تجوید الحروف هم په دوه قسمه دي (مخارج الحروف) او (صفات الحروف)

بیاصفات الحروف هم په دوه قسمه دي اول ((صفات لازمه)) دوهم ((صفات عارضه)) او معرفه الوقوف هم په دوه قسمه دي اول ((محل وقف)) دوهم ((کیفیت وقف))

شکل

دوهم فصل دتجوید اول جزء

مخارج الحروف :- مخرج په لغت کې دوتلو ځاي ته ویل کیږي او په اصطلاح کې دکوموځایونو ښخه چې حروف اداء کیږي هغي ته مخارج ویل کیږي بناء په قول مشهورباندې دحروفو مخارج ټول (۱۷) اووه لس دي او دامخارج په دوه قسمه دي ۱.مخرج محقق   ۲. مخرج مقدر .

مخرج محقق هغي ته وایي چې دحلق یا لسان یا دشونډو داجزاوو ښخه یو معین جزء وي .

او مخرج مقدر هغي ته و ایي چې دحلق ،لسان او شونډو داجزاوو ښخه نه وي اوکه وي نو جز معین به نه وي اودا دوه مخرجه دي اول (جوف دهن) دوهم (خیشوم) او مخارج محقق پنځه لس (۱۵) دي دحلق دمخارجو ښخه به شروع وکړو .

Downloaded from: Aghalibrary.com

حلق په دري برخوويشل شوي دي : اول (اقصى الحلق يعني کښته برخه دحلق) دوهم (منځني يا وسط دحلق) دريم (ادنى يعني لوړه برخه دحلق هغه برخه چې خولې ته نيږدې ده) .

اول مخرج اقصي الحلق : ددې څخه دوه حروف اداء کيږي لکه (ء ،ها) .

دوهم مخرج وسط الحلق : ددې نه هم دوه حروف اداء کيږي لکه (ع ، حا) .

دريم مخرج ادني الحلق : ددې نه هم دوه حروف اداء کيږي لکه (غ ، خا) . او دې شپږو حروفوته حروف حلقي وايي چې مجموعه يې په لاندې شعر کې ذکر شوې ده :

حـــــــروف حــــــلقي شش بود اي باوفا

هـــــــمزه ها وعـــــين وحا غــــــين وخا

اوس دلسان مخرجوته راځو چې په لسان کې لس (۱۰) مخارج دي .

څلورم مخرج: اقصاي لسان يعني دژبې بيخ چې دمقابل تالو سره ولګيږي ددې نه (ق) اداء کيږ ي

پنځم مخرج : داهم اقصاي لسان دي خود (ق) دمخرج نه لږ لاندې خولې طرف ته ددې نه (ک) اداء کيږي . دې دواړو حروفوته (ق،ک) حروف لهاتيه يا لهويه وايي، لهات هغه ژبکی ته وايي کوم چې په حلق پورې زوړنده وي نو ددې دواړو حرفونو تعلق لهات سره دې ځکه ورته لهاتيه وائي .

شپږم مخرج : دژبې مينځ چې دمقابل تالوسره پيوست شي ددې نه درې حروف اداء کيږي لکه (ج،ش، ی) . ي غير مده يعني ياي لين او ياي متحرک اداء کيږي او دې دري واړه حروفو ته حروف شجريه وايي . شجر ددواړوژامو ترمينځ چې کومه خاليګاه ده هغې ته وايي .

مخکې ددې نه چې اووم مخرج ذکر کړو بايد دغاښونو نومونه وپيژنو ځکه چې راتلونکي مخارج دغاښونو سره تعلق لري .

په عام طور سره دانسان دوه ديرش ۳۲ غاښونه وي مخکني څلور غاښونوته (دوه پورته دوه کښته) ثنايا وايي پورتني دووته يې ثناياي عليا وايي او لاندني دووته يې ثناياي سفلی وايي .

ددې په څنګ کې څلورغاښونه نوردي چې هغې ته رباعيات وايي .

درباعياتو په څنګ کې څلور نور غاښونوته انياب وايي او کواسر هم ورته وايي دانيابو په څنګ کې دوه پورته دوه لاندې څلور غاښونوته ضواحک وايي . دضواحکو په څنګ کې دوولس (۱۲) چې شپږ پورته او شپږ لاندې دي ديته طواحن وايي صرف همدغه طواحن (۱۲) دي نورټول څلورڅلوردي او دطواحن په څنګ کې څلورآخرني غاښونه دي چې هغې ته نواجذ وايي دغه دري قسمه آخرني غاښونه (ضواحک ، طواحن ، نواجذ چې مجموعه يې (۲۰) غاښونه کيږي ديته اضراس وايي .

لاندې دغاښونو خلاصه ذکر کيږي :

Downloaded from: Aghalibrary.com

ثنايا .... څلور (٤)

رباعيات ....څلور........(٤)

انياب ....څلور........(٤)

ضواحک ....څلور........(٤)

طواحن ....دوولس........(١٢) اضراس

نواجذ ....څلور........(٤)

اووم مخرج :- کله چي اقصي حافه لسان داضراس عليا دبيخونو سره ولګيږي ددي نه (ض) اداء کيږي دښي طرف څخه وي او که دچپ طرف څخه وي ، خودچپ نه اسانه اداء کيږي نسبت ښي طرف ته ، ددواړو طرفونو نه په يو ځل هم اداء کيږي خوداډير مشکل کاردي اودي حرف ته حافيه وايي .حافه دژبې اړخ ته وايي .

اتم مخرج :- ادني حافه مع طرف اللسان کله چي دثنايا ربعيات انياب او ضواحک بيخونوسره ولګيږي ددي نه (ل) اداء کيږي ښي طرف نه وي که چپ طرف نه وي خودادښي طرف نه اسانه اداء کيږي او ددواړوطرفو نه په يو ځل هم اداء کيږي .

(تنبيه) د(ض) مخرج دحافي هغه برخه ده چي دحلق طرف ته نږدي ده او دي ته اقصي حافه وايي .د(ل) مخرج دحافي دهغي برخي نه اداء کيږي کوم چي دخولي طرف ته ده او ديته ادني حافه وايي او همدارنګه د(ل) په اداء کولوکي دژبې څوکه هم دغاښونو سره لګيږي مګر د(ض) داداء کولو په وخت کي دژبې څوکه دغاښونو سره بلکل نه لګيږي .

نهم مخرج :- دژبې څوکه سره دادني حافه کله چه دثنايا ، رباعيات ، انياب بيخونو سره ولګيږي ددي نه (ن) مظهره (هغه نون کي چي اظهار کيږي) اداء کيږي .

لسم مخرج :- دژبې څوکه او دثنايا او رباعيات بيخونه ددي څخه (ر) اداء کيږي البته دي کي پشت زبان هم داخل دي يعني ددي داداء کولو په وخت کي ژبه شاطرف ته ميلان کوي او دنون مخرج ته نژدې دي خو دومره خبره ده چه دنون مخرج داداء کولو په وخت کي دژبې څوکه دتالو هغي حصي ته ميلان کوي کوم چي شونډوته نيژدي دي او د (ر) داداء کولو په وخت کي دژبې څوکه دتالو هغه حصې ته ميلان کوي کوم چي حلق طرف ته نيژدې وي (ل،ن،ر) دي دري واړو حروفوته حروف طرفيه او ذلقيه وايي طرف او ذلق دواړه په معني دکنارۍ سره راځي .

يوولسم مخرج :- د (ط،د،ت) مخرج دي کله چي دژبې څوکه دثناياعليا دبيخونو سره ولګيږي ددي څخه دا دري واړه حروف اداء کيږي او دي حروفوته حروف نطعيه وايي .

Downloaded from: Aghalibrary.com

دوولسم مخرج :- دژبي څوکه او دثنایا علیا هغه کناره چې د وریوسره پیوست دي ددي نه (ظ ، ذ ،ث) اداء کیږي دي درى واړه حروفوته حروف لثویه وایي لثه وریو ته وایي .

دیارلسم مخرج :- دژبي څوکه دثنایا علیا او سفلى دروني یا داخلي کناري ددې څخه (ص.س،ز) اداء کیږي مګر دژبي څوکه دکناروسره نه لګیږي دژبي څوکه او دکنارو ترمینځ لږ غوندي خلا باقي پاتي کیږي البته دثنایا علیا کناري او دثنایا سفلى کنار ي لږ غوندي یو له بل سره پیوست کیږي او که داپیوست نه شي نود صفیر صفت نه اداء کیږي او دي دري واړو حروفو ته حروف اسلیه او صفیریه وایي .اسله دژبي هغه نري څوکي ته وایي .

څوارلسم مخرج :-د(ف) مخرج دي کله چې دثنایا علیا څوکي دلاندیني شونډو دلمدي برخي سره ولګیږي ددې نه (ف) اداء کیږي .

پنځه لسم مخرج:- دواړه شونډي دي ددي څخه (ب ،م ، و) غیر مده اداء کیږي صرف فرق دومره دي چې (ب) دشونډو دلمدي برخي څخه اداء کیږي او (م) دشونډو دوچې برخي څخه اداء کیږي او (و) ددواړو شونډو دناتمام یو ځاي کیدو څخه اداء کیږي .

دې ځلوروواړو حروفوته حروف شفویه وایي .

دمخارجو دوهم قسم مخرج مقدر

لکه څرنګه چې دمخرج مقدر تعریف بیان شو هغه دا چې مخرج مقدر هغې ته وایي چې دحلق یا لسان یا شفے داجزاوڅخه یومعین جزء نه وي.او مخرج مقدر دوه دي . اول خیشوم یعني دپزي اخري حصه خیشوم دحلق ،لسان او شفے داجزاء ونه کوم جزء ندي جوف دهن اګر چې جزء دي خوجزءمعین نه دي

شپاړسم مخرج :- جوف دهن دي ددي نه دري حروف اداء کیږي (واو، الف ، یا) کله چې مده وي الف دحلق دجوف نه اداء کیږي .

واو دشونډودجوف نه اداء کیږي . او (یا) دوسط لسان او تالو دجوف نه اداء کیږي د دي دري واړه حروفو انتها په هوا باندي کیږي .

یعني ددي اواز دباقي حروفو غوندي دحلق ، لسان شفتین داجزاءو په کوم جزء باندي نه اودریږي بلکه په هواکي خوریږي او ختمیږي . او دي دري واړو حروفوته حروف جوفیه ، مده ،او هوایه ویل کیږي . جوفیه ځکه ورته وایي چې دجوف نه اداء کیږي .هوایه ځکه ورته وایي چې ددوي انتها په هواباندي کیږي ، مده ځکه ورته وایي چې دمدیت صفت پکي موجود دي .

اووه لسم مخرج :- دغه مخرج دخیشوم دي ددي نه غنه اداء کیږ ي دلته دغني څخه نون مخفاے او نون مدغم به ادغام ناقص دي . داخفاء او دادغام بحث به وروسته ان شاء الله راشي .

دالف او همزه ترمینځ فرقونه :-

Downloaded from: Aghalibrary.com

دالف او همزه ترمينځ ځلور فرقونه موجود دي .

١، الف هميشه مده وي او همزه هيڅ کله مده نشي کيدلاي .

٢، الف هميشه ساکن وي او همزه کله ساکنه او کله متحرک وي .

٣، همزه ساکنه دجټکي سره تلفظ کيږي او الف نرم بغير دجټکي تلفظ کيږي .

٤،الف دکلمي په اول کې نشي راتلاي بلکه په مينځ يا اخر کي راځي او همزه دکلمي په سر ،مينځ او پاي کي راتلاي شي (په ټولو ځايونو کي راتلاي شي) دکلمي په سر کي چي کومه همزه راغلي وي هغه دالف په شکل ښودل شوي وي خوداهمزه ده ، الف دکلمي په سرکي بلکل نه راځي .

دالله تعالي په فضل سره مخارج الحروف پاي ته ورسيدل مخکي ددي چي دتجويدالحروف په دوهم جزء يعني صفات الحروف باندي شروع وکړو پکارده دچي دلحن په تعريف او اقسامو پيل وکړو ځکه مونږ دهر حرف مخرج وپيژانده که موږ حرف دخپل مخرج نه اداء نه کړو معني کي يي بدلون او تغير راځي .

دلحن اقسام اود هغې حکم

لحن دتجويد ضد دي يعني تجويد قران صحيح لوستلو ته وايي او لحن دقران کريم غلط لوستلوته وايي مثلاً حرف دخپل مخرج نه نه اداء کول يا دهغي صفت لازمه يا صفت عارضه نه اداء کول يا په حرکات او سکنات کي غلطي کول دارنګه غلطي کولوته لحن ويل کيږي .

لحن په دوه معني ګانو باندي استعماليږي . يو په معني دلب ولهجه لکه څنګه چي حديث شريف کي راځي (اقرءوا القرآن بلحون العرب واصوتها) ترجمه : تاسوقران دعربو په لب ولهجو باندي ولولي او دهغوي په اوازونو باندې) او دلحن بله معني ده غلط لوستل .

کله چي لحن دتجويد په مقابل کي استعمال شي نو په معني دغلطي سره راځي .

لحن په دوه قسمه دي (لحن جلي) او (لحن خفي)

لحن جلي ښکاره غلطيوته ويل کيږي او دا په پنځه قسمه دي :

١، تبديل الحرف بالحرف : يعني ديو حرف پرځاي بل حرف لوستل لکه (الحمد)پرځاي په (الهمد)لوستل يا دالقدر پرځاي (الکدر) لوستل يا د (عليم) پرځاي (اليم) لوستل يا د (مصلحون) پرځاي (مسلهون) لوستل .

٢،يوحرف زياتول ياکمول مثلاً :د(لم يلد) پرځاي (لم يالد) لوستل اود (لم يولد) پرځاي (لم يُلد) لوستل او په اول مثال کي الف زياتول او په دوهم مثال کي دلم يولد څخه واو کمول .

٣، تبديل حرکت بالحرکت يعني ديو حرکت پرځاي بل حرکت لوستل مثلاً : دزبر پرځاي پيښ لوستل يا دضمه پرځاي فتحه يا کسره لوستل لکه : إنعمتِ پرځاي انعمتُ لوستل ياد ختم اللهُ پرځاي ختم اللهِ لوستل

Downloaded from: Aghalibrary.com

٤، تبديل حركت بالسكون يا تبديل السكون بالحركت مثلاً : خَلَقْنَا پرځاي خَلَقَنَا لوستل .

٥،مشدد مخفف او مخفف مشدد لوستل مثلاً : مُسْتَمِرٌّ پرځاي مُسْتَمِرُ بغير دشدنه لوستل .

اولحن جلي پنځه قسمونه لري اوددي حكم حرام دي ځكه چي په كلام الله كي تحريف دي ددي حروف تغير او تبديليږي او معني هم ورسره بدليږي او بعضي او قات پداسي غلطيو سره لمونځ هم فاسديږي نو دداسي غلطيوڅخه ځان ساتل ډير ضروري دي .

دو هم قسم لحن خفي :دلحن خفي معني ده پټه غلطي داهغه غلطيوته ويل كيږي چي هغه صفات نه اداء كول كوم چي دحروفو دتحسين او زينت سره تعلق لري اگرچي حروف دخپل مخرج نه ښه پوره اداء شي كوم كمي او زياتي پكي ونه شي خوهغه صفات چه حرف ورسره مزين كيږي هغه نه اداء كول چي هغه ته صفات عارضه وايي او دصفاتو عارضه وو تفصيل به وروسته ان شاءالله راشي . مثلاً (را) چي كوموحالاتو كي پر يا مفخم تلفظ كيږي هغه مفخم نه اداء كول يا اخفا يا غنه نه كول يا مد نه كول . خلاصه دا چي (صفات لازمه صحيح نه اداء كولوته لحن جلي وايي) او د (صفات عارضه وو صحيح نه اداء كولوته لحن خفي وايي) اگر چي په لحن خفي په معني كي كوم بدلون نه راځي خودحروفو كوم زينت چي دي هغه له منځه ځي او ددې نه ځان ساتل هم ضروري دي او ددې حكم مكروه دي .

دتجويد دوهم جزء (صفات الحروف)

صفات دصفت جمعه ده او صفت په لغت كي داسي تعريفوو .

(ماقام بشي ءٍ من المعاني) . يعني دمعانيو په لحاظ يوشي چه دبل شي پورې قايم وي . لكه علم او سپين والي : پس دعلم تحقيق بغير دعالم څخه نه كيږي او دسپين والي تحقيق بغير دسپين شي څخه نه كيږي .

او په اصطلاح كي دصفت تعريف : صفت هغه حالت او كيفيت دي چه دحروفو دمخرج نه د اداء كولو په وخت كي مخي ته راځي مثلاً دحرف پُر لوستل يا باريک لوستل يا سخت يا نرم لوستل او داسي نور .

صفات په دوه قسمه دي (صفات لازمه) او صفات عارضه)

١، صفات لازمه : هغه صفات دي چي دحرف نه بلكل نه جداكيږي كه داصفت په حرف كي اداء نشي نوحرف په خپل حال نه پاته كيږي بلكه ددي نه بل حرف جوړيږي يا غير عربي حرف ورڅخه جوړيږي ياناقص اداء كيږي مثلاً په (ظ) كي داستعلاء او اطباق صفت دي كه دا صفت پكي اداء نشي نو (ظ) څخه (ذ) جوړيږي . دغي وجهي نه داصفات حروفو پوري لازم دي اودي صفاتوته مميزه ،مقومه، ذاتيه ، او ضروريه هم وايي ذاتيه او مقومه ځكه ورته وايي چي كه چيري دا اداء نشي نو دحرف ذات باقي نه پاتي كيږي او حرف كامل نه اداء كيږي .اومميزه ځكه و رته وايي چي ديو مخرج حروف يو دبل څخه جدا جدا اداء كيږي .

٢، صفات عارضه هغه صفات دي چي په بعضي حروفو كي په بعضي اوقاتوكي راځي او په بعضي او قاتوكي نه راځي اوكه چيري داصفات اداء نه شي په حروفوكي څه تغير نه راځي په خپل حال پاتي كيږي

Downloaded from: Aghalibrary.com

مگر ددي حرف چه کوم زینت او حسن دي هغه ورسره ختمیږ ي ددغي وجهي نه دي صفاتو ته مزینه ، محسنه ، محلیه او عارضه وایي مزینه او محسنه او محلیه دا درى واړه په معني دزینت ورکوونکي راځي او عارضه دا معني چي داصفت دحرف پوري لا زم ندي کله پکي وي او کله نه وي . لکه ځنګه چي مخکي بیان شو دلحن په اقساموکي او که داصفات اداء نشي نو لحن خفي صورت نیسي .

دریم فصل (دصفات لازمه اقسام)

صفات لازمه ټول په (۱۸)قسمه دي چي لس پکي متضاده او (۸) پکي غیر متضاده دي متضاده دامعني چي یو دبل ضد واقع شوي وي یعني پنځه صفات دپنځو نورو ضدواقع شي او غیر متضاده هغه صفات دي چه ضد نلري لاندي جدول وګوري :

صفات لازمه متضاده

۱، همس		۲ ، جهر
۳ ، شدت	توسط	۴ ، رخوة
۵، استعلاء		٦ ، استفال
۷ ، طباق		۸ ، انفتاح
۹، اذلاق		۱۰،اصمات

صفات لازمه

غیر متضاده

۱۱صفیر
۱۲ قلقله
۱۳ لین
۱٤ انحراف
۱۵ تکریر
۱٦ تفشي
۱۷ غنه
۱۸ استطالت

په مختصر ډول دصفاتو ذکروشوچي وروسته به ان شاء الله تفصیلاً ذکرشي کوم لس صفات متضاده چه ذکر شو همس دجهر ضد دي یعني کومو حروفو کي چي دهمس صفت موندل کیږي په هغوکي جهر نه راځي همدارنګه شدت درخوة ضد دي خو ددي دواړو ترمینځ یو بل صفت دي چي هغي ته توسط وایي همدارنګه استعلاء داستفال ضد دي او اطباق دانفتاح ضد دي او اذلاق داصمات ضد دي .

اوصفات غیر متضاده بالمقابل ضد نلري ځکه دهغوي ضد بیان نشو .

۱، همس : همس په لغت کي داوازتیت والي ته وایي .

او د مجودینو په اصطلاح کي دمهموسه حروفو داداء کولو په وخت کي آواز په مخرج کي پداسي ضعف سره او دریږي چه نفس جاري وي خوآواز کي یو قسم ته پستي او تیټ والي وي او په کومو حروفو کي چه دهمس صفت موندل کیږي هغو حروفو ته مهموسه ویل کیږ ي او دا صفت په لس حروفو کي موندل کیږي چي مجموعه یي (فحثه شخص سکت) دي .

Downloaded from: Aghalibrary.com

۲، جهر : جهر په لغت کې دآواز اوچت والي ته وايي او په اصطلاح کې ددي حروفو داداء کولو په وخت کې آواز په مخرج کې پداسي قوت سره اودريږي چي ددې وجهي نه نفس (ساه) بنديږي او آواز کي يوقسم ته اوچت والي وي او کومو حروفو کي چه دجهر صفت موندل کيږي دي حروفو ته مجهوره وايي او مهموسه نه علاوه باقي ټول حروف مجهوره دي چه هغه (۱۹) حروف دي او دهمس ضد دي .

۳، شدت : شدت په لغت کې سختي والي ته وايي او په اصطلاح کي ددي حروفو د اداء کولو په وخت کي آوازپه مخرج کي پداسي سختي او قوت سره او دريږي چي پدي سره آواز بنديږي او حرف قوي اوسخت اداء کيږي او داصفت په (۸) حروفو کي راځي چي مجموعه يي (اجدک قطبت) دي او په کومو حروفو کې چه داصفت راځي هغوي ته شديده وايي .

(توسط) دشدت او رخوت ترمينځ توسط يو صفت د ي چه ددي لغوي معني ده درميان کي واقع کيدل او په اصطلاح کي ددي نه مقصد دشدت او رخوت درمياني حالت دي يعني ددي حروفو داداء کولو په وخت کي آواز نه دومره سخت وي لکه دشدت غوندي او نه دومره نرم وي لکه درخوت غوندي يعني دشديده وغوندي اوازفوراً نه بنديږي او نه د رخوت غوندي آواز بلکل جاري پاتي کيږي بلکه يو درمياني حال غوره کوي او داصفت په پنځوحروفو کي راځي چه مجموعه يي (لن عمر) دي او دي پنځو حروفو ته حروف متوسطه وايي .

٤، رخوے : رخوے په لغت کي نرمي ته وايي او په اصطلاح کي درخوے حروفو داداء کولو په وخت اواز په مخرج کې پداسي نرمي سره اودريږي چه دهغي وجهي نه اواز جاري پاتي کيږي دشديده او متوسط حروفو نه علاوه باقي ټول حروف رخوے دي .

٥، استعلاء : استعلاء په معني د اوچتيدلو راځي دلغت په بناء او په اصطلاح کي دمستعليه حروفو داداء کولو په وخت کي دژبي بيخ پورته تالوطرف ته اوچتيږي چه پدي وجهي سره دا حروف مفخم (پر) اداء کيږي او دا (۷) حروف دي چه مجموعه يي (خص ضغط قظ) دي او په کومو حروفو کي چه داستعلا ء صفت موندل کيږي هغي ته مستعليه وايي .

٦، استفال : استفال په لغت کي لاندي پاتي کيدلو ته ويل کيږي .

او په ا صطلاح کي دمستفله حروفو داء کولو په وخت کي دژبي بيخ بره تالوته نه اوچتيږي بلکه لاندي پاتي کيږ ي چه ددي وجهي نه داحروف باريک اداء کيږي دمستعليه حروفو څخه سواباقي ټول حروف مستفله دي . داستفال صفت چه په کومو حروفو کي راځي هغي ته مستفله وايي .

٧، اطباق : اطباق په لغت کي ښه پيوسته کيدلو ته وايي او په اصطلاح کي دمطبقه حروفو داداء کولو په وخت کي دژبي اکثره حصه يعني دژبي مينځ پورته تالو سره پيوسته کيږي چه له دي کبله دا حروف ښه مفخم (پر) اداء کيږي او په کومو حروفو کي چي داصفت پيداکيږ ي هغه حروفو ته مطبقه وايي او داڅلور حروف دي (ص ،ض، ط،ظ)

٨، انفتاح : انفتاح په لغت کي په معني دخلاصيدلو او جداپاتي کيدلو راځي او په اصطلاح کي دمنفتحه حروفو داداء کولو په وخت کي دژبي اکثرحصه يا بيخ پورته تالو سره نه پيوسته کيږي بلکه د هغي څخه

Downloaded from: Aghalibrary.com

جدا پاتي کيږي چي له دي کبله دا حروف پر نه اداء کيږي بلکه باريک اداء کيږي او په کومو حروفو کي چي دانفتاح صفت موندل کيږي هغه حروفوته حروف منفتحه وايي دمطبقه حروفو څخه علاوه باقي ټول حروف منفتحه دي .

۹، اذلاق : اذلاق په لغت کي په معني دتيزوالي راځي او په اصطلاح کي مذلقه حروف دشونډو يا دژبې دکناري څخه په سهولت سره اداء کيږي . او داشپږ حروف دي چي مجموعه يي (فرمن لب) دي .

۱۰، اصمات : اصمات په لغت کي په معني د منع کولو راځي او په اصطلاح کي داصمات حروف دخپل مخرج نه په مضبوطي سره اداء کيږي ددي په اداء کولو کي لږ څه ګراني محسوسيږي او په کومو حروفو کي چي داصفت راځي هغوته حروف مصمته وايي او دمذلقه حروفو څخه سواباقي ټول حروف مصمته دي .

دصفات غير متضاده تشريح

۱۱، صفير :صفير په لغت کي شپيلی يا دمرغی آواز ته ويل کيږي او په اصطلاح کي دصفيريه حروفو داداء کولو په وخت کي يو تيز آواز دشپيلی غوندي راوځي لکه عزيز او که دا صفت پدي حروفو کي اداء نشي دا حروف بلکل ناقص اداء کيږ ي او داصفت په درى حروفوکي راځي (ص ، ز ، س) .

۱۲،قلقله : قلقله په لغت کي جنبش اوحرکت ته وايي او داپنځه حروف دي چه مجموعه يي (قطب جد) دي او په اصطلاح کي ددي حروفو داداء کولو په وخت کي په مخرج کي يوقسم ته جنبش وي خودسکون او وقف په حالت کي قلقله زياتيږ ي او دحرکت په حالت کي ډير کم کيږي .

۱۳، لين : لين په لغت کي نرمي ته وايي او په اصطلاح کي دلين دحروفو داداء کولو په وخت کي داحروف ډيرپه نرمي سره اداء کيږي که غواړي چه مد وربandي وکړي هم کولي شي او دا دوه حروفه دي (و ، ي) چه کله ساکن وي او ماقبل يي مفتوح وي لکه(خوف) ،(والصيف)

۱۴، انحراف : انحراف په لغت کي اوړيدلواو مائل کيدلوته وايي او په اصطلاح کي د منحرفه حروفو داداء کولو په مختکي اواز دحافه لسان نه نوک (راس) لسان طرف ته او دراس لسان نه پشت لسان طرف ته ميلان کوي چنانچه په (ل) کي دحافه نه راس لسان طرف ته او په (ر) کي دراس لسان نه پشت لسان طرف ته ميلان کوي ځکه چي بعضي اوقات دسړي خيال نه وي د (ل) پرځاي (ر) او د(ر) پرځاي (ل) تلفظ کړي خصوصاً دادماشومانو څخه دارنګه غلطي زيات کيږي او دانحراف صفت په (ل) او (ر) کي راځي او دي دواړو حروفو ته حروف منحرفه وايي .

۱۵، تکرير يا تکرار : تکرير په لغت کي ديو شي بار بار تکرار کولو ته وا يي او په اصطلاح کي دتکرير نه مراد ديو حرف پرځاي څو حرفه اداء کول .

اود تکرار څخه مراد مشابهت دتکرار دي او داصفت صرف په (ر) کي راځي او دحقيقي تکرار څخه ځان ساتل ضروري دي دحقيقي تکرار نه هغه وخت سړي ځان ژغورلي شي چه د (ر) داداء کولو په وخت کي دژبې سر دتالو سره داسي مضبوط ولګي چي لرزه بلکل پکي رانشي په مضبوطوالي کي د

Downloaded from: Aghalibrary.com

دومره مبالغه هم ونه شي چه آواز پکي بندشي دحروف شديده وو غوندي بلکه په (ر) کي دتوسط صفت خيال وساتل شي .

١٦، تفشي : تفشي په لغت کې انتشار او خورېدلوته وايي او په اصطلاح کې د (ش) داداء کولو په وخت کې اواز په خوله کې منتشر کيږي لکه (منفوش) .

١٧، غنه : دغني څخه مراد هغه آواز دي چي دنون او ميم د اداءکولو په وخت کې په پوزه کې ظاهريږي په هيڅ حالت کې دنون او ميم څخه نه جدا کيږي متحرک وي او که ساکن وي او که پوزه بنده کړي نو داصفت پکي نه اداء کيږي او دي غني ته غنه اني وايي او بل قسم ته يي غنه زماني وايي چه ددي تفصيل به وروسته ان شاء الله په صفات عارضه کي راشي .

١٨، استطالت : استطالت په لغت کې طلب داوږدوالي ته وايي او په اصطلاح کي دا معني لري چي د (ضاد) داداء کولو په وخت کي دمخرج دشروع نه دمخرج تر اخره پوري اواز په تدريج سره ووځي يعني د نواجذ غاښونو او دژبي د کناري څخه آواز شروع شي په تدريج سره داسي ضواحکو پوري ورسيږي چي په آواز کي يو قسم ته اوږدوالي وي د (ظا) غوندي د دفتعاً زر ونه وځي دهمدي استطالت له کبله ضاد دظا څخه جدا کيږي نور په ټولو صفاتو کي ضاد او ظا مشترک دي چونکه دضاد مخرج نسبتاً نورو مخارجوته اوږد دي نوپه آواز کي يي هم اوږدوالي دي .

صفات عرضه

صفات عارضه هغه صفات دي چي کله په حرف کي موندل کيږي او کله نه موندل کيږي لکه څرنګه چي مخکي فصل کي دصفات عارضه و تعريف تفصيلي بيان شو صفات عارضه اجمالاً په لاندي ډول دي .

١، تفخيم ٢، ترقيق ٣، حرکت ٤،سکون ٥، مد ٦، صله ٧،ادغام ٨، اقلاب ٩ ، اخفاء ١٠ ، غنه زماني ١١، تسهيل ١٢، ابدال ١٣ ، حذف .

پورته صفات په دوه ډوله دي (عارض بالصفت) عارض بالحرف) عارض بالصفت تفخيم او ترقيق ته وايي او باقي ټول عارض بالحرف دي داعراض بالصفت څخه مطلب دادي چي هغه صف عارضه چي دکوم لازمي صفت دوجهي څخه پيداشوي وي مثلاً مخکي مونږ ولوستل چي د (خص ضغط قظ)څخه علاوه باقي نور ټول حروف باريک تلفظ کيږي چي تعداد يي (٢٢) ته رسيږي اوس په دي ٢٢ حروفو کي (الف ، ل ،ر) دا دري حروف داسي حروف دي چي هميشه باريک نه تلفظ کيږي بلکه په بعضي حالاتو کي باريک تلفظ کيږي او په بعضي حالاتو کي پر تلفظ کيږي په کومو حالاتوکي چي پر تلفظ کيږي په هغي کي صفت استعلاء عارض کيږي چي د هغي وجهي نه دا دري حروف پر تلفظ کيږي

Downloaded from: Aghalibrary.com

ځرنګه چي صفت استعلاء يو لازمي صفت دي نو د (الف ، ل، ر) په حروفو کي تفخيم صفت عارضه دي چي ديو لازمي صفت دوجهي څخه پيداشوي دي .

او عارض بالحرف څخه مطلب داده چي هغه صفت عارضه چي ديو حرف ديوځاي کيدلو له کبله پيداکيږي مثلاً دنون ساکن او تنوين ادغام يا اقلاب يا اخفاء يا په حروفو مده کي مد فرعي کول ځکه چي دنون ساکن او تنوين ادغام دحرف (يرملون) سره ديوځاي کيدلو له کبله کيږئ د (با) سره ديو ځاي کيدلو له کبله اقلاب کيږي او همدارنګه په حروف مده کي مد فرعي دهمزي سره ديوځاي کيدلو له وجهي څخه کيږ ي او که پر دوي باندي زقف يت سکته وشي نو اخفاء ،اقلاب ، ادغام ، مد ،صفات پکي نه موندل کيږي نو ددغي وجهي نه دي صفاتوته صفات عارضه وايي چه کله په حرف کي موندل کيږي او کله نه موندل کيږي .

شبه مستعليه

(الف،لام ،را) دادري واړه حروف ته شبه مستعليه وايي سره لدي نه چي دحروف مستعليه دي خو په بعضي حالاتو کي دا حروف پر (مفخم) تلفظ کيږ ي دحروف مستعليه وترمينځ چي مجموعه يي (خص ضغط قظ) دي او ددي دري حروفو تر مينځ فرق دادي چي حروف مستعليه هميشه پر تلفظ کيږي که مفتوح وي يا مضموم يا مکسور و ي يا ساکن وي پدي حروفو کي د استعلا ء صفت لازمي صفت دي چي بالکل ترينه نه جداکيږ ي او په شبه مستعليه حروفو کي (ل، ر، الف) تفخيم لازمي ندي کله پر تلفظ کيږي او کله باريک نو دغي وجهي نه ديته شبه مستعليه وايي يعني دمستعليه حروف سره مشابه دي .

اوس به دابيان کړو چي داحروف په کومو حالاتو کي پر تلفظ کيږي او په کومو حالاتوکي باريک تلفظ کيږي هريو به په خپل وارسره بيان کړو .

ځلورم فصل

تفحيم او ترقيق

دلام دتفخيم او ترقيق حالتونه

دلام نه مقصد زموږ فقط دلفظ (الله) دي لام دي نور لامونه تول باريک تلفظ کيږي صرف دلفظ د (الله) لام کله پر کله باريک تلفظ کيږي .

لفظ د(الله)اواللهم دري حالتونه لري :

۱،که دلفظ دالله (ج) او اللهم لام څخه ماقبل فتحه وه نو مفخم تلفظ کيږي لکه : هوالله ، مريم ،اللهم .

۲:همدارنګه که دي نه ماقبل ضمه هم وه مفخم تلفظ کيږي لکه : عبدالله ، قالواللهم .

۳، که دلفظ دالله ج او اللهم څخه ماقبل کسره وه باريک تلفظ کيږي لکه : بِسمِ الله ، قلِ اللهم .

Downloaded from: Aghalibrary.com

د(ر) دتفخیم اوترقیق حالتونه (ر) په شپږو حالتونوکي مفخم لوستل کیږي .

۱، راچي کله مضموم وي یامفتوح وي مشددوي اوکه مخفف وي لکه رَعدًا، رُزِقُوا،دُوْمِرَةٍ ،ففروا .

۲، راچي کله ساکن وي او ماقبل یي مضموم یا مفتوح وي لکه : یُرْزقُوْن، بَرْقٌ،ارسلوا .

۳،دراساکن نه ماقبل کسره عارقضی وي لکه :.اِرجِعُوْا،ارجعی

٤، دراساکن نه ماقبل کسره اصلي منفصله وي لکه : رَبِ ارجِعُوْن

او کله کسره عارضي هم وي او منفصله هم وي لکه : اَمِ ارتَابُو،ان ارتبتم .

۵،را ساکن وي او ماقبل یي کسره اصلي وي خو مابعدیي په یوه کلمه کي دحروف مستعلیه و څخه یوحرف راغلي وي لکه : مِر صَاد ، اِرصَاداً،قرطاسً،فرقے ، لبالمرصاد .خوحرف مستعلیه به مفتوح وي او که حرف مستعلیه د را څخه وروسته په یوه کلمه کي نه وه راغلي بیا را باریک لوستل کیږ ي لکه : فَا صْبِر .؛،صبراً .

٦، را ساکن وي او ماقبل یي هم ساکن وي اوماقبل یي مضموم یا مفتوح وي لکه : اَلْقَدْرَ ،اَلْعُسْرَ،الانهار .خوداصورت صرف وقف پوري خاص دي دوصل په صورت کي دا را متحرک لوستل کیږي .

درا دترقیق حالتونه

را په پنځه حالتونوکي مرقق یعني باریک لوستل کیږي .

۱، رامکسوره مشدد وي او که مخفف و ي لکه (رِزقٍ ، بِالبِرِ،رجالُ)

۲، را ساکن وي او ماقبل یي کسره اصلي متصله وي او مابعد یي حرف مستعلیه نه وي لکه (فِرعَون ، شِرعَۃً ،مریۃ)

۳، راساکن وي او ماقبل یي هم ساکن وي او ماقبل یي مکسوروي لکه لِذِي حِجْر، وَلابِکْر) خودادوقف په حالت کي وي .

٤، راساکن وي او ماقبل یي یاي ساکنه وي لکه (خَیر ،قَدِیر)

۵، راي مماله یعني هغه را چي اماله پکي شوي وي لکه (مَجرِهَا) اماله په ټول قران کریم کي صرف یوځاي راغلي په روایت حفص (رح) کي (اختلافي ځایونه)

په قران کریم کي دري داسي کلمات دي چي په هغي کي اختلاف دي یعني درا په هکله چي باریک تلفظ کیږي که پر تلفظ کیږي .

Downloaded from: Aghalibrary.com

۱، يولفظ (مِصرَ) دي ۲، بل لفظ (فِرقٍ) ۳، دريم لفظ (عَينَ الْقِطْرِ) دي بعضي وايي باريک تلفظ کيږي او بعضي وايي چي پر تلفظ کيږي خو په لفظ د مصر او عين القطردوقف په حالت کي اختلاف دي او دوصل په حالت کي لفظ مصر کي را مفتوح ده پر تلفظ کيږي او عين القطر کي را مکسوره ده باريک تلفظ کيږي او په لفظ دفرق کي په وصل او وقف دواړو کي اختلاف دي . خلاصه دا چي په پورتني دري کلماتوکي چي کوم را راغلي پدي کي تفخيم او ترقيق دواړه جائز دي .

دالف تفخيم او ترقيق

که چيرته دالف څخه مخکي حرف استعلاء راغلي وي نو الف هم ورسره مفخم تلفظ کيږي ځکه چي حروف استعلا ء ټول مفخم لوستل کيږي لکه :

(صَالِحِين) خَالِدُون) او همدارنګه په لفظ دالله او اللهم کي هم الف مفخم لوستل کيږي او که دالف څخه ماقبل حرف باريک اوستل کيده نوالف هم ورسره باريک لوستل کيږي لکه : نَاصِرِينَ .

دحروفو دتفخيم مراتب

دټولو څخه زيات لفظ دالله مفخم لوستل کيږي بيا وروسته ورپسي طا ، بيا صاد ،بياضاد، بيا ظا ،بيا قاف ورپسي غين ورپسي خا او بيا را همدارنګه دالف تفخيم هم دخپل دماقبل حرف په لحاظ دي يعني څومره چي ماقبل حرف يي مفخم وي همدومره الف هم ورسره مفخم لوستل کيږي .

پنځم فصل

په بيان د اظهار ، ادغام ، اقلاب او اخفاء کي

په دي فصل کي دنون ساکن او تنوين احکام بيانوو .

نون ساکن اوتنوين څلور احکامه لري . اظهار ، ادغام ، اخفا ء ، اقلاب

۱، اظهار : اظهار په لغت کي ښکاره کولو ته وايي .

او په اصطلاح کي بغير دغني څخه يو حرف دخپل مخرج نه اداء کول .

کله چي دنون ساکن اوتنوين څخه وروسته حروف حلقي راشي په دي کي اظهار کيږي يعني بغير دغني څخه اداءکيږي . لکه : مِن خَوف ، مَن امَنَ او دي اظهار ته اظهار حلقي يا اظهار حقيقي وايي

۲،ادغام : ادغام په لغت کي (ادخال شيء في الشيء) يعني يو شي په بل شي کي داخلول او په اصطلاح کي ساکن حرف دمتحرک حرف سره داسي يو ځاي لوستل چي يو مشدد حرف ورڅخه جوړشي .

Downloaded from: Aghalibrary.com

دنون ساکن او تنوين څخه وروسته يي په بله کلمه کي حرف (ير ملون) راشي چي ټول شپږ حروف دي نو په نون ساکن او تنوين کي ادغام کيږي لکه : مِنْ وّ َال ، من الَّدُنهُ خو په څلورو حروفو کي ادغام مع الغنه کيږ ي چي مجموعه يي (يمنو) دي او په دوو حروفو کي چي مجموعه يي (لر) دي ادغام بغير الغنه کيږي يعني په يمنو کي ادغام ناقص کيږ ي او په لر کي ادغام تام کيږي .

داغام ناقص او ادغام تام تفصيل به وروسته ان شاء الله راشي .

اوکچيري دنون ساکن څخه وروسته حروف يرملون په يوه کلمه کي راشي بيا ادغام نه کيږي لکه : صِنْوَن ٍ ، قِنْوانٌ په قران کريم کي صرف همدغه څلور کلمي راغلي پدي کي اظهار کيږي او دي اظهار ته اظهار مطلق وايي .

٣، اقلاب : اقلاب په لغت کي داسي معني کيږي (تحويل الشيءِ عن وجهه) يعني يو شي دخپل حقيقت څخه رااړول او په اصطلاح کي دنون ساکن او تنوين څخه وروسته چه (با) راشي په نون ساکن او تنوين کي اقلاب کيږي دغني سره يعني نون ساکن او تنوين په ميم بدليږي لکه : مِن بَعْدسَمِعُ ٌ بَصِ ٌر .

٤، اخفاء : اخفاء په لغت کي ستر يعني پټولوته وايي .

او په اصطلاح کي داظهار او ادغام ترمينځ يو ساکن حرف اداء کول يعني دنون ساکن او تنوين څخه وروسته چي حروف يرملون او حروف حلق او با څخه علاوه هر يو حرف چي راشي په نون ساکن او تنويي کي اخفاءمع الغنه کيږي.لکه : اَنفُسَکُم . اَنْتُم ، مِن قَبْل ، او داخفاء ټول (١٥)حروف دي او دي اخفاء ته اخفاء حقيقي وايي .

دميم ساکن احکام

ميم ساکن دري احکام لري . ادغام ، اخفاء ، اظهار

١، ادغام : دمنم ساکن څخه وروسته چي بل ميم راشي پدي کي ادغام مع الغنه کيږي لکه : اِلَيْکُمْ مُرْسَلُوْن .....

٢، اخفاء : دميم ساکن څخه وروسته چي با راشي په ميم ساکن کي اخفاء مع الغنه کيږي لکه : وَمَهُم ْ بِمُوْمِنِيْن او دي اخفاء ته اخفا ء شفوي وايي .

٣، اظهار : دميم ساکن څخه وروسته چي دميم او با څخه علاوه هريو حرف راشي په ميم ساکن کي اظهار کيږي او دي اظهارته اظهار شفوي وايي لکه : فَلَهُم ْ اَجْرُهُمْ

دلام تعريف احکام

دلام تعريف دوه احکامه دي اظهار او ادغام

Downloaded from: Aghalibrary.com

۱، الف دلام تعریف څخه وروسته نشي راتلاي په ۲۸ حروفو کي د ۱٤ حروفو څخه مخکي چي لام تعریف راشي په لام تعریف کي اظهار کیږي او په ۱٤ جروفو کي ادغام کیږي په هغه حروفو کي چي اظهار کیږي مجموعه یي (ابغ حجک وخف عقیمه) دي لکه : اَلْبُخْلِ ،القارعه ، الکوثر ، ددي نه سوا په ۱٤ نورو خروفو کي ادغام کیږي لکه : اَلشَمس ،التوبه ، الرحمن ، دي اظهار ته اظهار قمري وایي او دي ادغام ته ادغام شمسي وایي .

شپږم فصل دغني په بیان کي

دغني معني مخکي هم تیره شوه دخیشوم نه چي کوم آواز وځي هغي ته غنه وایي غنه په دوه قسمه ده (غنه آني) او (غنه زماني) غنه آني وي او که غنه زماني وي داصرف په میم او نون پوری خاصه ده غنه زماني په نون او میم کي په بعضي حالاتوکي راځي لکه څرنګه چي مخکي دنون ساکن اومیم ساکن احکام تیر شول .

غنه آني : دنون او میم لپاره صفت لازمي دي په هر حال کي پکي موندل کیږي که وغواړي او که ونه غواړي داصفت بلا ارادي اداء کیږي .

غنه زماني : د ارادي څخه بغیر نه اداء کیږي او دا غنه لاندي په نون او میم کي موندل کیږي :

۱، نون ساکن او تنوین څخه وروسته دحروف حلقي او لام او را نه علاوه باقي ۲۰ شلو حروفو کي کوم یو حرف چي راشي هلته غنه کیږي .

۲، دمیم ساکن نه وروسته چي میم یا باراشي (میم مخفاے او میم مدغمه کي)

۳، نون او میم چي کوم ځاي کي مشدد راشي فقط چي همد دري حالاتو کي غنه کیږي او دغني مقدار یو الف دي یعني دیو الف په اندازه د غنه وشي دیو الف اندازه داده چي خلاصه ګوته بنده کړي یا بنده ګوته خلاصه کړي .

اووم فصل په بیان کي د مد

مد په لغت کي اږدولو او کش کولو ته وایي .

او په اصطلاح کي په حروف مده او حروف لین باني د آواز اوږدول دي .

حروف مده دري دي (الف ،واو ، یا) کله چي ساکن وي او ماقبل حرکت یي دخپل جنس څخه وي لکه : قَالَ ،قَالُو ، قِیْلَ او حروف لین دوه دي (واو ، یا) چي ساکن وي او ماقبل یي مفتوح وي لکه : مِنْ خَوْف ، وَالصَیف

اول مد په دوه قسمه دي (مد اصلي) او (مدفرعي)

Downloaded from: Aghalibrary.com

[Pick the date]

۱،مد اصلي :مد اصلي هغه مد ته وايي چي کوم سبب باندي موقوف نه وي حروف مده چه اداء کوي نو هغه خپله ورسه اداء کيږي لکه : : قَالَ ،قَالُو ، قِيْلَ

که چيري پدي کلماتوکي مد ونه شي نو دحرف ذات باقي نه پاتي کيږي او همدارنګه مد اصلي کوم سبب باني هم موقوف ندي .

۲،اومد فرعي : هغه مد ته وايي چي کوم سبب باندي موقوف وي کچيري مد فرعي اداء نشي دحرف ذات ورسره نه ختميږي بلکه د کلمي چي کوم زينت او حسن دي هغه ورسره له مينځه ځي لکه سُوءَ ، قَالُو ، اَمَنَا .

دمد اسباب

مد اصلي خوصرف محل مد ته ضرورت لري . مد فرعي لپاره د دوه شيانو وجود ضروري دي (محل مد) او (سبب مد) محل مد هم دوه شيان دي (حرف مده) او (حرف لين)

او سبب هم دوه شيان دي : همزه او سکون لکه : والسماء پدي کي سبب دمد همزه ده او په ربِ العلمين کي سبب مد سکون دي .

دمد اسباب دوه دي همزه او سکون ددي دواړو دوه دوه اقسام دي (همزه متصل) او همزه منفصل) . (سکون لازم) او (سکون عارض) .

مدفرعي اجمالاً په څلور قسمه دي (مد واجب) ۲ (مدجائز) ۳ (مدلازم) ٤ (مد عارض) مد واجب ته مد متصل هم وايي او مد جائز ته مد منفصل هم وايي . مد فرعي تفصيلاً په (۹) قسمه دي چه په لاندي ډول دي :

۱، مد متصل (۲) مد منفصل (۳) مد لازم کلمي مثقل (٤) مد لازم مخفف (٥) مد لازم حرفي مثقل (٦) مد لازم حرفي مخفف (۷) مد لازم لين (۸) مد عارض لين (۹) مد عارض وقفي .

۱، مد متصل : هغه مد ته وايي چي دحرف مده څخه وروسته همزه په يوه کلمه کي راغلي وي لکه : سَوَاءً ، سُوْءَ .

۲، مد منفصل : هغه مدته وايي چي دحرف مده څخه وروسته همزه په جدا کلمه کي راغلي وي لکه : قَالُوا ، اَمَنَا ،فِاَنْفُسِکُم .دي مدته منفصل ځکه وايي چه همزه په جدا کلمه کي راغلي او جايزځکه ورته وايي په بعضي رواياتوکي راغلي اوبغضي رواياتوکي ندي راغلي او بله خبره داده چي دا مد صرف د وصل په حالت کي کيږي که مخکي کلمي باندي وقف وشي بيا دا مد نه کيږي او مد متصل په وصل او وقف دواړوحالاتوکي کيږي ددي ادواړو مدونو سبب همزه ده او دنورو مدونو سبب سکون دي .

۳، مد لازم کلمي مثقل : هغه مد ته وايي چه دحرف مد څخه وروسته په يوه کلمه کي مشدد حرف راغلي وي لکه : اَلطَّامَـــے ، دَابَـــے ،الصَّاخَة

Downloaded from: Aghalibrary.com

دلته سبب مد سکون دي کوم مشدد حرف چه دحرف مد څخه وروسته راغلي په حقيقت کي دا دوه حرفه دي اول ساکن اودوهم متحرک اول په دوهم کي مدغم شوي دي .

٤، مدلازم کلمي مخفف : هغه مد ته وايي چي په يوه کلمه کي دحرف مد څخه وروسته يو لازمي سکون راغلي وي لکه : آلْئَنَ او دامد په ټول قران کريم کي صرف په همدغه يوه کلمه کي راغلي دي دلازمي سکون څخه مقصد دادي چي په هرحال کي ساکن وي يعني دوصل او وقف په دواړو حالتونو کي ساکن دي .

دمدلازم حرفي صرف په حروف مقطعات کي راځي .

٥،مدلازم حرفي مثقل :هغه مدته وايي چي په حروف مقطعاتو کي دحرف مده څخه وروسته مشدد حرف راغلي وي لکه : (الم) کي اول مد مراد دي دلته هم دحرف مد څخه وروسته مشدد حرف راغلي خو مشدد حرف په اصل کي دوه حرفه دي او ل شاکن دوهم متحرک اول په دوهم کي مدغم شوي د مد سبب دغه ساکن حرف دي .

٦، مد لازم حرفي مخفف : هغه مد ته وايي چي په حروف مقطعاتوکي د حرف مد څخه وروسته سکون راغلي وي لکه : حم ، ق ، ص) ،

٧، مد لازم لين : هغه مد ته وايي چي په حروف مقطعات کيدحرف لين څخه وروسته سکون راغلي وي او دا مدپه ټول قران کريم کي په يوه کلمه کي دوه ځايه راغلي چي هغه عين دي ، په سورے مريم او سورے شورا کي مثال : (کهيعص) حم عسق)

٨، مد عارض لين : هغه مد ته وايي چي دحرف لين څخه وروسته سکون عارضي راغلي وي يعني دوقف په سبب ساکن شوي وي لکه : (مِن خَوُف وَالصَيْف)

٩، مد عارض وقفي : هغه مد ته وايي چي دحرف مده څخه وروسته سکون عارضي راغلي وي لکه : (يَومِ الدِيْنِ ، نَسْتَعِيْنُ)

دمدونو مقدار

مداصلي کي صرف قصر کيږي او دقصر اندازه يو الف دي ددي څخه زياد اوږدول جائز ندي او مد فرعي مختلف قسمونه لري نو دهغي مقدار هم مختلف دي چي تفصيل يي په لاندي ډول دي :

مد متصل اومد منفصل کي يوسط کيږي په توسط کي هم دري اقواله دي (دوه الفه ، دوه نيم الفه ، څلور الفه)

اومدمنفصل کي قصر هم کيږي خو په طريقه دجزري (رح) کي فقط دمد لازم په اولني څلور قسمونوکي صرف طول کيږي دطول مقدار دري الفه يا پنځه الفه دي .

په مدلازم لين ، مدعارض وقفي اومدعارض لين کي طول توسط ،قصر دري واړه جايز دي مد لازم لين او مد عارض وقفي کي اول طول بهتر دي بيا توسط ، بيا قصر او په مد عارض لين کي ددي برعکس او

Downloaded from: Aghalibrary.com

[Pick the date]

ل قصر بهتر بیا توسط بیا طول بهتر دي خو دلته دتوسط مقدار دوه الفه یا دري الفه دي مد متصل غوندي ځلور الفي توسط جایز ندي کومو مدونوکي چه طول ،قصر دري واړه جایز دي ددي دري واړو څخه به یواختیاروي یاطول یا توسط یا قصر دتلاوت په شروع کي چه کوم قول مو اختیارکړو دتلاوت ترآخره پوري به په هغي عمل کوي مثلاً طول مو اختیار کړو آخره پوري به په طول باندي عمل کوي داسي نشي چي مثلاً یو ځاي مو دوه الفي توسط وکړو بل ځاي کي دري الفي توسط وکړي بلکه آخره پوي به همغه دوه الفي توسط باندي عمل کوي همدارنګه مد منفصل ته په مد متصل باندي ترجیع ورکړو ځکه چي مدمنفصل ضعیف دي او مد متصل قوي دي او همدارنګه مد عارض لین ته په مد عارض وقفي ترجیع ورنکړو مثلاً په مدعارض وقفي کي موتوسط وکړو او په مد عارض لین کي مو طول وکړو داجایز ندي یا به په دواړو کي مساوات کوي یابه مد عارض وقفي ته په مدعارض لین ترجیع نه ورکوي چي مد عارض وقغي کي طول او مد عارض لین کي توسط وشي .

اتم فصل هاي ضمیر

دهاي ضمیر څخه مراد دواحد مذکر غایب ضمیر دي کله چي داسم فعل یا حرف پوي متصل شي لکه : (رَسُولُهُ بِهِ اَكَلَهُ) دهاي ضمیر ځلور قاعدي دي دوه ددي دحرکت په هکله دي او دوه یي دصله یا عدم صله په هکله دي (۱) که چیري دهاي ضمیر څخه مخکي کسره وه یا یاي ساکنه وه نو هاي ضمیر مکسور لوستل کیږي لکه : بِهِ اِلَيْهِ مګر ددي قاعدي څخه ځلور کلمات مستثني دي چي دوه کلموکي مضموم لوستل کیږي او دوه کلمو کي ساکن لوستل کیږي سره لدي چي ماقبل یي مکسوردي په کومو کلماتو کي چي مضموم لوستل کیږي هغه دادي (وَمَا اَنْسَنِيْهُ ، سورے کهف کي او عَلَيْهُ اللهَ سورے فتح کي او کومو کي چي ساکن لوستل کیږي هغه دادي (اَرْجِه ، دوه ځایه سورے اعراف کي او فَاَلْقِه سورے نمل کي .

۲، که دهاي ضمیر څخه ماقبل نه کسره وه او نه یاي ساکنه وه نو هاي ضمیر مضموم لوستل کیږي لکه : (اَخَه ، رَاءَ نُتُمُوْهُ) مګر دقاعدي څخه یو ه کلمه مستثني ده چه په هغه کي مکسور لوستل کیږي ، وَتَقَهِ سورے نور کي پدي ها باندي همدغه دوه حرکته راځي یعني کسره او ضمه فتحه وربانې نه راځي لاندي دوه قاعدي دصلي او عدم صلي په هکله دي :

۳، که چیري دهاي ضمیر نه ماقبل او مابعددواړه متحرک وو نو ها ضمیر کي صله کیږي که ماقبل یي مضموم وه نو صله د واو سره کیږي او که ماقبل یي مکسور وو نو صله دیا سره کیږي لکه : اَمْرُ اِلَي اللهِ بِوجْهِهِ سُوْءَالْعَذَابِ مګر یو کلمه ددي قاعدي څخه مستثني ده چه هغه يَرْضَهُ لَكُمْ سورے زمر کي دي سره ددي نه چه ماقبل او مابعدیي دواړه متحرک دي بیاهم صله نه کیږي .

٤، که دهاي ضمیر ماقبل او مابعد دواړه ساکن وو یا ماقبل فقط ساکن وو یا مابعد یي فقط ساکن وو نو پدي دري صورتونو کي په هاي ضمیر کي صله نه کیږي مثالونه یي لاندي ذکر دي (مِنْهُ الْمَا ء ، مِنْهُ اَيَتُ ُ) مګر په یوه کلمه کي (فِيْهِ مُهَاناً)ددي قاعدي څخه مستثني ده سره لدي چه ماقبل یي ساکن دي خو بیاهم صله کیږي صله دي ته وایي چه حرکت اوږد اداء کړل شي که حرکت ضمه وه دومره یي اوږد کړي چه وروسته ورنه واو ساکن جوړ شي او همدارنګه که حرکت یي کسره وه نو دومره یي اوږد کړي

Downloaded from: Aghalibrary.com

چه يا ساکن تر جوړه شي او صله دوقف په صورت کي نه پيداکيږي بلکي دوصل په صورت کي کيږي .

لاندي کلماتوکي صله نه کيږي ځکه چه پدي کليماتوکي ها دنفس کليمي ښخه د مَانْقُقَهُ سورے هود لَئِن لَم تَنْتَهِ دوه ځايه سورے شعراء کي او يو ځاي سورے مريم کي لَئِن لَم تَنْتَهِ

سورے علق کي فواکه سورے مومنون لاندي يو ځوکليمات دي چه صورتً دهاي ضمير غوندي دي خو په اصل کي ها ضمير ندي بلکي دي ته هاي سکته وايي او دا هميشه ساکن دي هغه کلمات دادي : لَمْ يَتَسَنَهُ ، سورے البقره کي اِقْتَدِهُ ، په سورے انعام کي کِتَابِيَهُ دوه په سورے احاقه کي او همدارنګه يو ځاي مَالِيَه ُ راغلي دي سُلْطَنِيَهُ يو ځاي په سورے الحاقه کي او دوه ځايه حِسَابِيَهُ په سورت الحاقه کي مَاهِيَهُ په سورے القارعه کي چه داټول کليمات دي نهه ځايه راغلي دي

نهم فصل

په بيان دادغام کي

ادغام په لغت کي ادخال شيء في الشي ته ويل کيږي يعني يو شي په بل شي کي ننوستل او په اصطلاح کي دوه حروفونه په داسي ډول يو ځاي کول او لوستل چه يو مشدد حرف ورڅخه جوړشي .

سبب او مخرج په اعتبار سره ادغام په دري قسمه دي . (ادغام مثلين) (ادغام متجانسين) (ادغام متقاربين)

ادغام مثلين : ديته وايي چه دوهم مثل حروف يو په بل کي مدغم شي لکه : اذهب بکتابي .

ادغام متجانسين : ديته وايي چي ديو مخرج حروف يو په بل کي مدغم شي لکه :اذظلموا .

ادغام متقاربين : ديته وايي چه دوه قيب المخرج حروف يوپه بل کي مدغم شي لکه : من ربه .

دمدغم په اعتبار سره ادغام په دوه قسمه دي (ادغام صغير) ادغام کبير)

ادغام صغير ديته وايي جه مدغم حرف ساکن وي يعني دساکن حرف په متحرک حرف کي ادغام کيدل لکه : (اليکم مرسلون)

ادغام کبير ديته وايي چي مدغم حرف متحرک وي يعني مدغم او مدغم فيه دواړه متحرک وي امام حفص رحمه الله عليه دروايت مطابق ددي ادغام په ټول قرانکريم کي صرف پنځه مثالونه موندل کيږي .(اتحاجوني) (تامروني) (لاتامنا) (نعما) (مکني)

د اداء اوکيفيت په اعتبار سره ادغام په دوه قسمه دي (ادغام تام) او (ادغام ناقص)

Downloaded from: Aghalibrary.com

ادغام تام هغه ادغام ته وايي چي دمدغم حرف هيڅ يو صفت باقي پاتي نشي لکه : مِنْ لَّدُنه ، مِنْ رّبِهِ .

ادغام ناقص :هغه ادغام ته ويل کيږي چه دمدغم حرف کوم صفت باقي پاتي شي لکه : مِنْ وَالٍ

دحکم په اغتبار سره ادغام په دوه قسمه دي (ادغام واجب) او (ادغام جائز)

په مثلين او متجانسين حروفو کي ادغام واجب دي اومتقاربين حروفوکي ادغام جايز دي ادغام مثلين کي صرف ادغام تام کيږي او ددي ادغام ١٤ صورتونه په قرانکريم کي موندل کيږي .

١،دبا ادغام په با کي لکه (اذهب بکتابي)

٢، دتا ادغام په تا کي لکه (فماربحت تجارتهم)

٣، ددال ادغام په دال کي لکه : (قددخلوا)

٤، دعين ادغام په عين کي لکه : (تسطع عليه)

٥، درا ادغام په را کي لکه ک (وذکرربک)

٦، دفاادغام په فا کي لکه : (فلايسرف في القتل)

٧، دکاف ادغام په کاف کي لکه : (يدرک کم الموت)

٨،دلام ادغام په لام کي لکه : (کلابل لاتکرمون)

٩، دميم ادغام په ميم کي لکه : (اليکم مرسلون)

١٠، دنون ادغام په نون کي لکه : (من نشاء)

١١، دواو ادغام په واو کي لکه : (عصوو)

١٢، دها ادغام په ها کي لکه : (يوجهه)

١٣، ديا ادغام په يا کي لکه : (لدي المرسلون

١٤، دذال ادغام په ذال کي لکه : (اذذهب)

دادغام متجانسين ټول ٧ صورتونه په قرانکريم کي راغلي دي چه شپږوکي تام ادغام کيږ ي او يو صورت کي ناقص ادغام کيږي په کوموصورتونوکي چي ادغام تام کيږي هغه په لاندي ډول دي :

١، دتاادغام په دال کي لکه : (اثقلت دعوالله)

٢، دتا ادغام په طا کي لکه : (وقالت طايفے)

٣، ددال ادغام په تا کي لکه : (قدتبين)

Downloaded from: Aghalibrary.com

٤، دذال ادغام په ظا کي لکه : (ادظلموا)

٥، دثاادغام په ذال کي لکه : (يلهث ذالک)

٦، دبا ادغام په ميم کي لکه : (ارکب معنا)

او په لاندي يو صورت کي ادغام ناقص کيږي

٧، دطا ادغام په تا کي لکه : (بسطت ، فرطت ، فرطتم ، احطت) داغام متقاربين چه لام تعريف په حروف شمسيه کي ادغام هم ورسره حساب کړي ټول ٨ صورتونه په قرانکريم کي موندل کيږي خو په ځلوصروتونو کي تام ادغام کيږي په دوه صورتونوکي ادغام ناقص کيږي او په يوصورت کي ادغام اختلافي کيږي او په يو صورت کي ادغام اختياري کيږي . په لاندي صورتونوکي تام ادغام کيږي .

١، دلام تعريف ادغام په حروف شمسيه کي لکه : (الشمس)

٢، دنون ساکن او تنوين ادغام په لام کي لکه : (من ادنه ، هدًي لبني اسرائيل)

٣، دنون ساکن او تنوين ادغام په را کي لکه :(من ربه ، من ثمرے رزقاً)

٤، دلام ادغام په راکي لکه : (قل ربِ)

٥،دنون ساکن او تنوين ادغام په واو کي لکه : (من وال ، مغفرے ورحمے)

٦، دنون ساکن او تنوين ادغام په يا کي لکه : (من يقول ، نومئذٍ يَوَدُ)

٧، دنون ساکن او تنوين ادغام په ميم کي لکه : (من ماءٍ مهينٍ ، دا ادغام اختلافي دي بعضي وايي چي دا غنه دنون دي او بعضي وايي چه داغنه دميم دي .

٨، الم نخلقکم کي دکاف ادغام په کاف کي اختياري دي يعني ادغام تام او ادغام ناقص دواړه جائز دي خو ادغام تام بهتر دي .

داغام موانع

دمثلين لپاره د ادغام مونع :

کله چي دوه هم مثله حروف سره جمع شي اول ساکن دوهم متحرک نو ادغام کول واجب دي مګر حروف مده خپل هم مثله کي ادغام نه کيږي لکه : في يوم ، الذي يوسوس ، ان الذين امنواوعملوا الصاحات ځکه چي دلته ثقل پيداکړي او ادغام دثقل لري کولو لپاره کيږي او بله وجه داده چي ادغام قريب المخرج حروفو کي کيږي دا دواړه حروف خپلوکي بعيدالمحرج دي ځکه اول حرف مده دي او دوهم متحرک دي او دريمه وجه داده چي که چيري ادغام وشي نو دحروف مده مديت به ختم شي يعني دمثلين لپاره د ادغام موانع داده چي اول حرف به مده نه وي متجانسين لپاره لپاره د ادغام موانع په لاندي ډول دي :

Downloaded from: Aghalibrary.com

کله چي دوه هم جنسه حروف جمع شي او ل ساکن دوهم متحرک نو ادغام واجب دي مګر حروف حلقي پخپل هم جنس کي ادغام نه کیږي لکه : فاصفح عنهم ، ځکه چي ثقل پیداکیږي متقارب لپاره دادغام موانع په لاندي ډول دي دلاه هم دمخکي غوندي حروف حلقي پخپل متقارب کي ادغام نه کیږي لکه : فسبحه . همدارنګه حروف حلقي په غیر حلقي کي هم ادغام نه کیږي لکه : لاتزغ قلوبنا . او همدارنګه دلام هل او لام بل او لام فعل ادغام په نون کي نه کیږي لکه : هل ندلکم ، قلنا ، بل نقدف ، بلحق علي الباطل .

لسم فصل اجتماع ساکنین

اجتماع ساکنین څخه مقصد د دوو ساکن حروفو جمع کیدل دي او دا په دوه قسمه دي (علي حده) او (علي غیرحده)

۱، اجتماع ساکنین علي حده دیته وایي چه دوه ساکن حروف سره جمع شي پداسي شان چه او حرف یي مده وي او دواړه په یوه کلمه کي وي لکه : الئن ، دابے ددي حکم دادي چي اول ساکن پخپل حال پاتي کیږي هیڅ تغیر پکي نه راځي دوقف او وصل په دواړو حالتونوکي یوشانتي لوستل کیږي .

۲، اجتماع ساکنین علي غیرحده :

دیته وایي چه دعلي حده د دوو شرطو څخه یو یا دواړه شرطونه پکي موجود نه وي چه ددي دري صورتونه جوړیږي .

۱، دواړه ساکن حروف په یوه کلمه کي وي خو اول ساکن حرف مده نه وي لکه : القدرالعسر وغیره ددي حکم دادي چه دوقف په حالت کي دواړه ساکن حروف په حال باقي پاتي کیږي او په وصل کي دوهم ساکن باندي کسره راځي او داجتماع ساکنین صرف دوقف په حالت وي .

۲، دمخکني صورت برعکس یعني اول ساکن حرف وي خودواړه په یوه کلمه کي نه وي لکه : قالا الحمد ، في الارض ، قالوا الئن ، دا په اصل کي په قالاالحمد ، في الارض ، قالوا الئن وو .

ددي حکه دادي چه په لوستلوکي اول ساکن حرف حذف کیږي اوکه وقف وربادي وشي بیا په خپل حال پاتي کیږئ ځکه چه بیا اجتماع ساکنین صورت نه نیسي .

۳،دریم قسم دادي چي اواړه شرطونه موجودنه وي یعني اول ساکن نه حرف مده وي او نه په یوه کلمه کي وي لکه :قل الحق ، قل الحمد ، قدیرالذي ، ددي حکم دادي چي دو باندي ضمه راځي او دوو باندي فتحه راځي په کومو باندي چي ضمه راځي هغه دادي (چه اول ساکن میم جمع وي لکه : انتم العلون علیکم الصیام) ۲ (چه اول ساکن هغه واو لین نوي چه دجمع لپاره وي لکه دعوالله رءو العذاب ، چه په لصل کي دعو او رء و وو او په کومو باندي چه فتحه رځي دادي ۱(چه اول ساکن د من جاره نون وي لکه : من الناس ، من الله ، ۲(چه اول ساکن د الم میم وي چه دسورت ال عمران په سرکي راغلي کلچه لفظ الله سره وصل شي لکه : الم الله

دترتیل دوهم جزء معرفے الوقوف

Get More e-books from www.Aghalibrary.com
Aghalibrary.com - Digital Library